## الدرس الثانی
## دوهم درس

### الأمور المهمة المتعلقة بالصلاة
### د مانځه په باره کښې بعض ضروری خبرې

(١) سړو باندې په جومات کښې د جمعی سره مونځ کول واجب دی ، رسول الله ﷺ فرمائيلي دی : ترجمه : يقينًا ما دا كلكه اراده کړې وه چې حکم وکړم په مانځه باندی چې جماعت ودرېږی بيا زه لاړ شم دهغه چاکوروته چې زمونږ سره مونځ ته نه حاضرېږی نو د هغوی کورونه وسيزم. متفق عليه ٦٥١.٢٤٢٠.

(٢) د مسلمان دپاره ضروری دی چې په اطمينان او وقار سره وختي جومات ته راشي.

(٣) مسنون طريقه داده چې جومات ته د ورداخليدو په وخت کښې اول ښی خپه مخکښې کړی ، او دا دعاء ووائی : «اللَّهُمَّ افْتَحْ لِي أَبْوَابَ رَحْمَتِكَ» اے الله ! د رحمت دروازې زما دپاره کھولاوی کړه ، او بيا کسه خپه .

(٤) مسنون طريقه داده چې دوه رکعات په مسجد کښې مخکښې د کيناستلونه وکړی شی ، د ابو قتاده رضی الله عنه نه روايت دی چې رسول الله ﷺفرمائيلی دی :«ترجمه» كله چې يوتن په تاسو کښې جومات ته ورننوځی د کيناستلونه مخکښې دِی دوه رکعات مونځ وکړی .

(٥) د خپل عورت پټول په مانځه کښې واجب دی ، د سړی عورت د نامه نه تر ښنګرو پوری دی او د زنانه ټول بدن عورت دی، صرف په مانځه کښې به مخ نه پټوی .

(٦) قبلې ته مخ کول واجب دی ، د مونځ د قبليدلو دپاره دا اهم شرط دی مګر که څه مجبوری وی دمرض وغيره بيا عذر دی ، او حالت د سفر کښې په سورلۍ باندی که صرف نفلی مونځ کښې د قبلی نه مخ واوړی بيا هم مونځ صحيح دی.

(٧) په خپل وخت باندی مونځ آداء کول پکار دی ، د وخت نه مخکښې مونځ نه کيږی ، او د وخت نه روستو کول ئې حرام دی.

(٨) د مونځ دپاره وختی تلل ، اول صف کښې کيناستل ، او د مونځ انتظار کول ټولو کارونو کښې ډير لوئی ثواب لری .

د ابو هريره رضی الله عنه نه روايت دي چه رسول الله ﷺ فرمائيلی دی : «ترجمه » که چرته خلقو ته پته ولګی چه اذان کولو کښې او أولنی صف کښې څومره أجر او ثواب دی ، نو يو بل سره به ئې په هغی باندی خسنړی اچولی وی ، او که دوی ته پته لګيدلی وی چې وختی جومات ته راتللو کښې څومره اجر دی ، نو د يوبل نه به په منډه باندی ديته مخکښې شوی وی متفق عليه . بل ځائی کښې د نبی کريمﷺ نه نقل دی :«ترجمه » يوتن ستاسو نه تر هغه وخت پوری په مانځه کښې حسابيږی ترڅو چه مونځ تاسو هيسار کړی وي، متفق عليه.